مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني
۲۰۱۸/۱۱/۲۱

# پردی ځواني

په بوډا زړه کی ځوانه سوې نشه
د نا آشنا مستیو بنګ اخلي
لاسونه پښي نخاته ځان جوړوي
د چا د ګونګي نغمي شرنګ اخلي
د جادوګري زماني له ګوتو
د کوه قاف د ښوکو رنګ اخلي
پیغلي وعدي د انتظار پر ګودر
له زلمی میني زړه قلنګ اخلي
خدایه بیا زړونه له کوګله باسي
څه په نازونو څه په جنګ اخلي
سترګي پرانیزم آیینه راګوري
مات می خیالونه کړي له هره لوري
پر سرمي واوره د زمان پرته ده
لا په تلوار وربادي نوره اوري
پاس له تندي تر زني لاندي ګونجي
پکښي می دوي بي نوره سترګي ښوري
تر دي منزله په زګېروي راغلی
لا می پخوا دي ورځی سختي نوري
نه کوه قاف نه یي خیالونه وینم
نه شاپیری نه یي پوځونه وینم
نه د ملوک نه د بدری پرنکل
پاس په تختونو کي خوبونه وینم
نه بندوي مي جادوګري زلفی
نه یي په تار پیيلي زړونه وینم
نه د ساقي له شونډو څاڅي نشي
نه یي په ګوتو کی جامونه وینم
نه له مستی مي ده نسکوره پیاله
نه ډکي پیني تش خمونه وینم
نه د مطرب ګوتو شهباز اخیستی
نه مي آشنا پکښی سورونه وینم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ